# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د غبرګولي ۱۱مه| د ۲۰۲۰ د مۍ ۳۱مه | ۵۴۱مه ګڼه


## د اروپايي ټولنې تازه اعلامیه؛
### افغان حکومت يې هرکلی، خو طالبانو يې له ځينو برخو سره مخالفت کړی دی



۳

د سولې په اړه وروستي اقدامات او راتلونکې هیلې!
۲ مخ

افغان کډوال او د کرونا ویروس وبا
۲ مخ

نزدیک بینی چشم چیست؟ علائم، عوارض و راه‌های پیشگیری و درمان آن
۵ مخ

## د سولې لپاره تازه هڅې؛
### په تېرو دوو ورځو کې حکومت ۷۱۰ طالب زندانیان او طالبانو ۷۳ امنیتي ځواکونه له خپلو زندانونو ازاد کړي

ملي امنیت شورا وايي چې افغان حکومت په تېرو دوو ورځو کې ۷۱۰ طالب بندیان د هېواد له ځرخي پله، بګرام او نورو ولایتونو له بندخونو ازاد کړي دي.
د ملي امنیت شورا ویاند جاوید فیصل وايي چې ټاکل شوې ده چې نن او سبا ځينې نور طالب بندیان هم ازاد شي چې د دوه زرو طالبان بندیانو د ازادولو په اړه د ولسمشر فرمان پلی شي. دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر غني تېره اونۍ - د اختر په ورځ د طالبانو تر دوه زره بندیانو د ازادولو په اړه فرمان صادر کړ او نوموړي وويل چې دا اقدام يې د سولې لپاره د ښه نیت په پار کړی دی. حکومت له دې مخکې هم نږدې دوه زره طالب زندانیان د هېواد له بندخونو ازاد کړي دي چې له دې ډلې يې ۱۱۰۰ بندیان له کوچني اختر مخکې او ۹۰۰ هم د اختر په ورځو کې ازاد شول. بلخوا په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهل شاهین هم ویلي چې دغې ډلې تېره ورځ ۷۳ دولتي بندیان له خپلو زندانونو ازاد کړي دي. نوموړي زیاته کړې چې طالبانو تراوسه ۴۲۰ دولتي بندیان ازاد کړي او دا لړۍ به نوره هم دوام وکړي. دا په داسې حال کې ده چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړه لیک پربنسټ ټاکل شوې چې حکومت د طالبانو تر پنځو زرو او طالبان هم تر زرو دولتي بندیان ازاد کړي. دغه راز طالبان ټینګار کوي چې باید ټول پنځه زره طالب بندیان ازاد شي چې د افغانانو ترمنځ خبرو اترو ته لار هواره شي.

## په ټول هېواد کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې په تېره میاشت کې شپږ برابره ډېرې شوې



۲ مخ


## پوهنتون
۴ مخ

### سبا د لوړو زده کړو موسسه

سبا د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو لپاره فزیکي او ډیجیټلي کتابتونونه لري، چې محصلین کولی شي له دغو کتابتونو څخه د خپلې مطالعې او څېړنې لپاره ګټه واخلي.




## کرنې ریاست: روان کال په کونړ کې نږدې څلور سوه ټنه شفتالو تولید شوي دي



د کونړ د کرنې ریاست چارواکي وايي، سږکال په دغه ولایت کې نږدې څلور سوه ټنه شفتالو تولید شوي چې له درکه يې بڼوالو ته میلیونونه افغانۍ ګټه په لاس ورغلې ده.
چارواکي وايي چې په دغه ولایت کې د خصوصي پانګوالو له لوري د بڼوالۍ په برخه کې د پانګونې لپوالتیا ورځ تربلې په پراخېدو ده.
د کونړ د کرنې رییس نجیب الله عادل ویلي، چې د مالټې، لیمو او نارنجو ترڅنګ د کرنې ریاست په تخنیکي همکاریو د پانګوالو له لوري په ۹۵۰ جریبه ځمکه کې د شفتالو بڼونه هم جوړ شوي، چې سږکال د ۲۷۰ جریبه ځمکې باغونه په حاصلاتو راغلي دي.
نوموړی وايي چې د شفتالو بڼونو له درکه خلکو ته د کاري اسانتیاوو ترڅنګ بڼوالو په سږني فصل کې ۸.۲ میلیونه افغانۍ عاید کړی دی.

## عبدالله: مذاکرات صلح با جانب طالبان طی دو هفتهٔ پیش رو آغازمی شود



عبدالله عبدالله، رئیس شورای عالی مصالحهٔ ملی می گوید که مذاکرات صلح با جانب طالبان طی دو هفتهٔ پیش رو آغازمی شود، اما تاهنوز مکان و زمان دقیق مذاکره مشخص نشده است.
درخبرنامه ای دفتر شورای عالی مصالحه که دیروز منتشر شده، آمده است که عبدالله عبدالله، رئیس شورای عالی مصالحهٔ ملی، پیش از چاشت دیروز در دفتر کارش درقصرسپیدار با اعضای هیأت مذاکره کنندهٔ جمهوری اسلامی افغانستان دیدار و ملاقات کرده است.
منبع افزوده است، در این دیدار، عبدالله عبدالله با ابراز خرسندی ازحل بحران سیاسی گفت که جمهوری اسلامی افغانستان در تعیین هیأت مذاکره‌کننده، خطوط و نقشهٔ راه مذاکرات و شروع مذاکرات به دیدگاه واحد دست یافته است.
رئیس شورای عالی مصالحهٔ ملی همچنان گفته است که تیم مذاکره کنندهٔ جمهوری اسلامی افغانستان از تمام اقشار و گروه‌های اجتماعی و قومی نمایندگی می کند و با صلاحیت کامل به مذاکره خواهند پرداخت.
موصوف ابراز امیدواری کرد که مذاکرات صلح با جانب طالبان طی دو هفتهٔ پیش رو آغاز شود؛ اما افزود که تاهنوز مکان و زمان دقیق مذاکره مشخص نشده است.
رئیس شورای عالی مصالحه تأکید کرد که هیأت مذاکره کننده با دیدگاه واحد و منسجم به مذاکره خواهند پرداخت و از حقوق، دست‌آوردها و ارزش‌های اسلامی و ملی دفاع خواهند کرد.


Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos
کابل دریيمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

دریځ

## د سولې په اړه وروستي اقدامات او راتلونکې هیلې!

د قطر په پلازمېنه دوحه کې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې تړون له لاسلیک وروسته او د تړون د یوې برخې په توګه، ټاکل شوې وه چې په لنډ وخت کې باید د بین الافغاني خبرو د پیل او باور فضا د رامنځته کولو په تړاو افغان حکومت پنځه زره طالب زندانیان او په بدل کې به یې طالبان زر حکومتي بندیان ازادوي. که څه هم له مهالوېش او ټاکل شوې مودې سره سم دا چاره ترسره نه شوه او دواړو لورو په یوځل یاد شمېر زندانیان ازاد نه کړل، خو له دواړو لورو څخه وخت ناوخته د محدود شمېر زندانیانو د ازادولو لړۍ روانه ده. دغه پروسه وروسته له هغې چټکه شوه، چې طالبانو په کوچني اختر کې درې ورځنی اوربند اعلان کړ او په مقابل کې یې ولسمشر غني هم د ورته اقدام اعلان وکړ.

دغه راز ولسمشر غني وویل چې د سولې پروسې د بریالیتوب او ښه نیت په پار به په لنډه موده کې دوه زره نور طالب زندانیان هم خوشي، طالبانو د حکومت د دغه اقدام هرکلی وکړ او له خپل لوري څخه یې هم د زندانیانو د ازادولو ژمنه وکړه. افغان حکومت له یاد شمېر نیمایي زندانیان د اختر په ورځو کې خوشي کړل او تازه د ملي امنیت شورا ویاند جاوید فیصل ویلي چې حکومت په تېرو دوو ورځو کې پر بګرام او پلچرخي زندانونو سربېره، د ولایتونو له زندانونو ۷۱۰ طالبان ازاد کړي او دا لړۍ به نن هم دوام وکړي، ترڅو د ولسمشر غني له فرمان سره سم یې شمېر زر تنو ورسېږي. په ورته وخت کې په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین هم تېره ورځ پر خپل ټویټر کې ویلي، چې په بېلابېلو ولایتونو کې یې ۷۳ حکومتي سرتېري له خپلو زندانونو ازاد کړي دي.

په ټوله کې د سولې پروسې د بریالیتوب او د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره وروستي ګامونه پرځای او مثبت دي، خو بسنه نه کوي. دواړې خواوې باید په خپل اوسني دریځ کې نور هم نرمښت راولي او ټول هغه خنډونه له منځه یوسي چې تر دې دمه یې د بین الافغاني خبرو د پیل مخه ډپ کړې ده. په لومړي قدم کې حکومت او طالبان باید د ښه نیت او باور فضا د رامنځته کولو لپاره هغه ټول زندانیان ازاد کړي چې د دوحې د سولې په تړون کې پرې هوکړه شوې وه. دویم او مهم اقدام د اوربند مسئله ده، دواړه لوري باید ژر تر ژره روان تاوتریخوالي ته د پای ټکی کېږدي او پر یوه سرتاسري اوربند هوکړه وکړي. دریېمه خبره هم د بین الافغاني خبرو د پیل نېټه او ځای دی چې ژر تر ژره یې دې چارې بشپړې شي او د دواړو لورو پلاوي دې په خپلو کې سره کېني.

په پای کې اړینه ده چې بیا هم د بین الافغاني خبرو د پیل او د سولې پروسې د بریالي کېدو لپاره دواړه اړخونه کوټلي ګامونه اوچت کړي، په اوسنیو دریځونو کې دې لا ډېر نرمښت راولي، په دواړو خواوو کې دې مغرضو کړیو ته د دې فرصت نه ورکول کېږي چې دا پروسه سبوتاژ کړي او په یوه او بله بهانه پکې خنډونه رامنځته کړي. ټوله هڅه دې د بین الافغاني خبرو پر پیل، بریالي کېدو او د افغانستان د راتلونکي حکومت پر جوړښت وشي، داسې حکومت چې ټول اړخونه پکې ځان خوندي ووینې او پر دې سره دې به روانې کشالې ته د پای ټکی کېښودل شي او د هېواد د راتلونکي د ابادۍ لپاره به لاره پرانیستل شي.

# افغان کډوال او د کرونا ویروس وبا

د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز
لیکوال: ګرانټ فار / ژباړه: امان الله تاند

کرونا ویروس، د امریکا له لوري لګېدلي بندیزونه او په نړیوال مارکېټ کې د خامو تیلو د بیو راغورځېدل هغه څه وو چې د ایران اقتصاد ته یې بې ساري تاوانونه واړول او هغه دندې او کارونه چې پر مرسته یې افغان کډوالو کولی شول خپل ژوند تېر کړي، په یاد هېواد کې له منځه یووړل.

له تېرو څلورو لسیزو راهیسې په زرګونو افغان کډوال له خپل جګړه ځپلي هېواد څخه وتلو ته اړ شوي او په ایران کې ژوند تېروي. په داسې حال کې چې د یادو کډوالو له ډلې ځینې په خپله خوښه او ځینې بیا په زور له ایران څخه هېواد ته د راستنېدو په حال کې دي.

په اوس وخت کې د کډوالو دغه راستنېدنه که له یوې خوا شته لړې روغتیایي سرچینې ګواښي، له بلې خوا د هېواد په کچه د کرونا ویروس خپرېدو سره هم مرسته کوي.

دغه راستنېدونکي کډوال په فراه او هرات ولایتونو کې هم کرونا ویروس خپروي، هغه ځایونه چې کډوال پکې په کوچنیو خونو او همدارنګه په هغو بسونو کې وخت تېروي چې ګڼه ګوڼه پکې وي او کابل ته د ۱۴ ساعتونو په اندازه سفر پکې ترسره کوي.

افغانستان چې له یوې خوا د نړیوالو مرستو کمېدو، طالب جنګیالیو او همدارنګه د سیاسي کړکېچ چې د نامناسب حکومت په ترڅ کې رامنځ ته شوی، د دې وړتیا نه لري چې له راستنېدونکو کډوالو سره د مرستې او د کرونا ویروس مخنیوي په برخه کې لاس پر کار شي. دا ځکه چې افغانستان له یوې خوا نه هغسې روغتیایي اسانتیاوې لري او نه هم قوي ادارې چې پر مټ یې وکولی شي له کډوالو سره مرسته وکړي او یا د هغه ویروس مخه ډب کړي کوم چې د کډوالو په راستنېدو سره هېواد ته را انتقالیږي.

نو دغسې یو نازک حالت طالبانو ته فرصت برابر کړی چې له هغو کسانو سره روغتیایي مرستې وکړي چې په ویروس اخته شوي دي. د شوروي اتحاد له یرغل وروسته چې په ۱۹۷۹ کې ترسره شو، ډېری افغانان د خپل جګړه ځپلي هېواد پرېښودو ته اړ شول.

په تېرو څلورو لسیزو کې په میلونونو افغانان ګاونډي هېواد پاکستان ته ورکډه شول، د خیبر پښتونخوا ایالت اړوند د پېښور ښار په شاوخوا کې مېشت شول، هغه ځای چې د خلکو کلتور او ژبه یې له افغانستان سره یو شان ده او په ځانګړې توګه د کابل او جلال آباد سیمو له اوسېدونکو سره ورته والی لري. په تېرو څو لسیزو کې افغان کډوال په خپله خوښه او یا په زور افغانستان ته بېرته راستانه شوي او په لویه کچه په جلال آباد او کابل ښارونو کې یې ژوند غوره کړی دی. په اروپا او ترکیه کې له سوري کډوالو وروسته په زیات شمېر افغان کډوال هلته مېشت دي او یو شمېر افغان کډوال بیا په هند، مالیزیا او استرالیا کې هم ژوند تېروي. دا په داسې حال کې ده چې یو شمېر افغانانو په جلاوطنۍ کې یو نسل او یا له هغه هم ډېر وخت تېر کړی او په بهر نړۍ کې ځینې داسې افغان ماشومان هم شته، چې تر دې مهاله یې خپل هېواد په سترګو نه دی لیدلی. یو شمېر افغانان چې د تاجک او هزاره توکمو لږکیو قومونو سره تړاو لري او شمېر یې زرګونو کسانو ته رسېږي، په لویدیځه پوله ایران ته کډه شوي چې زیاتره یې په دري ژبه خبرې کوي او هغه افغانان چې ایران ته کډه شوي، زیاتره یې شیعه مذهبي دي چې دا مذهب په ایران کې اکثریت او په افغانستان کې اقلیت جوړوي.

د ایران او افغانستان په پوله تګ راتګ نه یوازې ستونزمن وي، بلکې له خطره هم کم نه وي. په دې سیمو کې کم شمېر خلک ژوند کوي او دا ځای نیمه وچه دښته تشکیلوي.

د ایران او افغانستان په پوله په رسمي توګه درې د تګ راتګ ځایونه شته، خو دا چې دا پوله له یوه پرانیستي هېواد (افغانستان) سره پرته ده، نو ځکه زیاتره افغانان په عامه توګه له رسمي ځایونو پرته تګ راتګ کوي.

له ایران سره پر پوله د قاچاق یو فعال کاروبار شته چې په ترڅ کې یې افغان کډوال او هغه مالونه چې زیاتره پکې مخدره توکي وي، ایران هېواد ته انتقالیږي. فراه او هرات هغه ولایتونه دي چې د ایران پولې ته نږدې پراته دي.

د هرات لرغونی ښار چې شاوخوا پنځه لکه نفوس لري، له هغو سیمو څخه ده چې زیات شمېر افغانان ترې ایران ته داخلیږي او یا له هغه هېواد څخه افغانستان ته راستنېږي. د فراه ښار چې شاوخوا پنځوس زره خلک پکې اوسیږي، ډېری سیمې یې د طالبانو تر ولکې لاندې دي او تر ډېره له پامه غورځېدلی ښکاري.

د رسمي شمېرو له مخې، شاوخوا یو میلیون افغانان چې قانوني اسناد لري او یو زیات شمېر نور افغان کډوال په ایران کې مېشت دي. تر دې چې ځینې شمېرې ښیي چې په یاد هېواد کې ۴.۵ میلیون افغان کډوال مېشت دي.

په ایران کې د ټولو افغان کډوالو ۹۷ سلنه په ښاري او نیمه ښاري سیمو کې ژوند کوي چې زیاتره یې په ورځ مزدورۍ په ساختماني پروژو او همدارنګه داخلي برخو کې په دندو بوخت وي. او د ټولو کډوالو یوازې ۳ سلنه بیا په هغو شلو کمپونو کې ژوند تېروي چې د ایران حکومت له لوري جوړ شوي دي.

د ایران په زیاترو ښارونو کې یو شمېر وروسته پاتې ښارګوټي شته چې افغان کډوال پکې ژوند تېروي او زیات شمېر هغه ښارونه چې افغان کډوال پکې مېشت دي، له تهران، مشهد او قم ښارونو څخه عبارت دي.

د افغانانو د استوګنو ځایونو کنټرول او معلوماتو لپاره ایران یو شمېر ښارونه او سیمې ځانګړې کړې دي، له هغو پرته د بېلګې په توګه اصفهان او اردبیل بیا هغه ولایتونه دي چې هلته عام افغانان حتی د تګ اجازه هم نه لري.

په ایران کې شاوخوا ۴۵۰ زره افغانان قانوني اسناد لري او د هغو قانوني اسنادو پر مټ کولی شي په قانوني توګه هلته خپل ژوند تېر کړي او خپل کاروبارونه هلته وکړي. چې له ډلې یې تعلیمي ادارو، روغتیایي مرکزونو، او کار ځایونو ته د تګ قانوني اجازه لري.

په ۲۰۱۷ ز کال کې د ایران حکومت د یو شمېر افغان کډوالو سرشمېرنه د هغوی د قانوني کولو په موخه وکړه او په همدې ترڅ کې یې هغوی ته یو ډول اسناد چې په ایران کې ورته (آمایش) وایي او یوازې غیر رسمي کډوالو ته ورکول کېږي، ورکړل او ۸۰۴ زره افغان کډوال په همدې لړ کې ثبت شول.

که څه هم چې په ایران کې ډېرې افغان کورنۍ ژوند تېروي، خو له ډلې یې زیات شمېر بیا داسې کسان هم په دغه کې ژوند تېروي چې ایران ته یوازې د کار ترسره کولو لپاره تللي وي او یو شمېر افغان کډوال چې موخه یې د ترکیې له لارې اروپا ته تګ وي، د ایران له لارې تېرېږي. دغه راز ایران په دې وروستیو کې له دریو بهرنیو اقتصادي او ټولنیزو ګواښونو سره مخ شو چې له، په نړیواله کچه د خامو تیلو د بیو رالوېدل، د امریکا له لوري اقتصادي بندیزونه او د کرونا ویروس څخه عبارت دي.

په ۲۰۱۸-۲۰۱۹ مالي کال کې د ایران ناخالص کورني عواید ۴.۷ سلنه راښکته شول او د ۲۰۱۹ – ۲۰۲۰ مالي کال په لومړنیو نهو میاشتو کې د ایران ناخالص کورني عواید بیا ۱۴.۱ سلنه راښکته شول او دغه کار په یاد هېواد کې د بې کارۍ کچه ۱۰ سلنه لوړه کړه او هغه کسان چې عمرونه یې د ۱۵ او ۲۵ کلونو ترمنځ دي، د هغوی د بې کارۍ کچه له ۲۵ سلنې هم لوړه شوه.

په آسیا کې ایران لومړنی هېواد و چې د کرونا مرګوني څپې یې و ازمویلې او اوس له روسیې او چین وروسته په آسیا کې دریېم هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي او زرګونهکسان پکې د یاد ویروس له امله مړه شوي دي.

د رسمي شمېرو په پرتله ښایي په ویروس د اخته کسانو شمېر څو برابره ځکه لوړ وي چې په ایران کې د کرونا ویروس معاینه کېدو امکانات ډېر کم دي او په همدې ترتیب رسمي شمېرې نامعلومې دي. د ایران یو شمېر چارواکي او د هغوی له ډلې د روغتیا وزارت مرستیال هم په کرونا ویروس اخته شو.

دا چې کرونا ویروس په نورو هېوادونو کې مخ پر زیاتېدو دی، په ایران کې یې هغه خلک ډېر ځپلي چې په ټیټه طبقه کې ژوند کوي چې له هغې ډلې افغان کډوال چې په وړو استوګنځایونو کې چې د ګڼې ګوڼې احتمال پکې زیات دی، ډېر ځپلي؛ ځکه هغوی ته په کورونو کې یوازې پاتې کېدل او ټولنیز واټن غوره کول یو څه ستونزمن وو.

د لومړي ځل لپاره د ایران په قم ښار کې د روان کال فبرورۍ میاشتې په ۱۹مه د کرونا ویروس لومړنۍ پېښه ثبت شوه او داسې ویل کېدل چې یو تن ایرانی طبعه چې تازه له چین څخه له سوداګریز سفر وروسته قم ښار ته راستون شوی و، کرونا ویروس یې له ځان سره رالېږدولی دی.

قم چې په مذهبي کچه د ایران یو پراخه ښار ګڼل کېږي، د شیعه مذهب اړوند پراخه عبادتځایونه پکې شتون لري او هلته داسې انګېرل کېږي چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم زیارتونه موقعیت لري او دا خبره بیا په شیعه مذهب کې ځانګړې حیثیت لري.

د شیعه مذهب عبادتځایونه د ایران په مختلفو برخو کې موجود دي، مګر په مشهد او قم ښار کې بیا دغه مذهبي عبادتځایونه د نورو سیمو په پرتله یو څه ډېر دي او یاد عبادتځایونه بیا د شیعه مذهب ټیټې طبقې لپاره ځکه ځانګړی او اړین حیثیت لري، چې هغوی دغو ځایونو ته په راتګ له خپل پروردګاره د ځانګړو دعاوو قبلېدو ترځنګ غوښتنه کوي چې د هغوی بخت او طالع کار وکړي.

د درناوي او احترام لپاره زیارتونو ته غاړې ایښودل او د هغوی مچې کول هلته معمول وي او دا بیا هغه څه دي چې د ویروس له خپرېدو سره نور هم مرسته کوي.

دا چې په ایران کې زیاتره افغان کډوال شیعه مذهبي دي، هغه مذهب چې په ایران کې اکثریت دی، افغان کډوال په ایران کې په یادو زیارتونو د خپلې عقیدې له مخې ورمات شوي وي چې زیاتره یې بې وزله طبقه ده او بله دا چې دغه مذهبي ځایونه زیاتره په هغو سیمو کې دي، چې ډېر افغان کډوال پکې مېشت وي.

ایران د خپل مخ پر ځوړ اقتصاد او د کرونا ویروس د خپرېدو له امله افغان کډوال له خپل هېواده ایستلو ته اړ باسي او ځیني وختونه ورسره له ډېر زوره هم کار اخلي او کډوال تر افغان پولې پورې رسوي. زیاتره هغه کسان چې له ایران څخه ایستل شوي، انفرادي کسان دي، خو داسې کورنۍ هم شته چې له ماشومانو سره یو ځای له ایرانه شړل شوي دي.

هغه کسان چې له ایران څخه په زور ایستل شوي، په افغانستان کې د کاري فرصتونو لږوالي له امله د هغوی ۵۰ سلنو یې بېرته د دې هڅه کړې چې د قاچاقبرانو په مرسته د کار او روزګار لپاره بېرته ایران ته ولاړ شي. په داسې حال کې چې د قاچاقبرانو زیاتره هغه یې د ډېرې بدې رویې خاوندان وي او له خلکو سره ناوړه رویه کوي او ډېر ځله داسې هم شوي چې عام مسافر یې جرمي ډلو ته په لوی لاس سپارلي او هغوی یې بیا د خوشې کېدو په بدل کې له بندیانو څخه د روپیو اخیستو غوښتنه کوي.

د کډوالۍ نړیوالې ادارې د شمېرو له مخې، د روان کال په لومړیو څلور نیمو میاشتو یعنې مې میاشتې تر نهمې پورې ۲۷۷۹۰۵ هغه افغان کډوال چې په ایران کې مېشت وو او قانوني اسناد یې نه درلودل، په زور ایستل شوي او د اسلام قلعې او نیمروز له لارې هېواد ته راستانه شوي دي.

خو په دې کې بیا ۸۰.۴ سلنه داسې کسان هم شامل وو چې په خپله خوښه یې غوښتل له ایران څخه هېواد ته راستانه شي او ۱۹.٦ سلنه په رسمي توګه له یاد هېواد څخه ایستل شوي دي. د روژې میاشتې (د اپرېل له ۲۴ مې بیا د مې تر ۲۲ مې پورې) که څه هم د کډوالو راستنېدل یو څه کم شوي، خو دغه لړۍ په ټپه نه ده دربدلې.

له ایران سره پر پوله د دوو نقطو له لارې د خلکو ستنېدل د هرې ورځې په حساب زرګونو کسانو ته رسیږي، که څه هم دغه شمېرې اونۍ تر اونۍ فرق کوي.

د روان کال د اپریل میاشتې په دریېمه اونۍ یا د روژې میاشتې له پیل کېدو یوه اونۍ وړاندې شاوخوا ٦۲۳۴۱ کډوال له ایران سره په پوله را اوښتي چې په ورځنی ډول اته زره کسان هېواد ته راستانه شوي دي. په قانوني توګه له تګ راتګ سربېره په زرګونو کسانو په ناقانونه توګه د ایران په پوله اوښتي دي. د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې د معلوماتو له مخې، یو زیات شمېر قاچاقبران ایران ته د افغانانو تګ راتګ لپاره آسانتیاوې برابروي.

د ۲۰۰۱ ز کال په پیلېدو سره زیاتره قاچاقبرانو د ایران له لارې هڅه کول عام افغانان اروپا ته ولېږدوي، په داسې حال کې چې اوس خبره معکوسه ښکاري او خلک بېرته افغانستان ته ستنېږي. هغه افغان کډوال چې د ایراني چارواکو له لوري په زور ایستلو ته اړ کېدل، هغوی به په صفري نقطه کې خوشې کېدل چې د دواړو هېوادونو منځنۍ نقطه ګڼل کېږي. په همدې ځای کې د یو شمېر نړیوالې ادارې د افغان حکومت سره یو ځای د راستانو شویو ګډوالو سره مرستې کوي ترڅو هغوی په خپل هېواد کې ځای پر ځای کړي. له ایران څخه د راشړلو پر وخت ډېری افغان کډوال پرته له یو جوړ جامو چې په تن یې وي، نور هر څه هلته په ایران کې پرېږدي.

په ایران کې زیاتره کډوال چې ورځنۍ مزدوري کوي، د هغوی یو شمېر قانوني اسناد نه لري او په یاد هېود کې له هغوی سره ډېر ناوړه چلند کېږي، تر دې چې د هغو ایرانیانو سره چې دغو افغان کارګرو کار کاوه، هغوی ته به یې د خپلې مزدورۍ پیسې نه ورکولې او کله داسې هم شوي چې کارګرو ته به د مزدورۍ په بدله کې مخدره توکي ورکول کېدل او همدا علت و چې افغانستان ته اکثریت راستانه شوي کډوال په نشه یې توکو او په ځانګړې توګه په هېروئینو روږدي وي.

د راستنو شویو کډوالو په منځ کې داسې کسان هم شته چې د یو نسل په اندازه یې کلونه کلونه په بهر کې تېر کړي وي او له خپلو کورنیو سره په افغانستان کې هېڅ ډول اړیکې نه لري. نو هغوی په افغانستان کې د اوسېدو هېڅ ځای نه ویني چې هلته ورستانه شي او همدا علت دی چې یاد کډوال یا په هرات کې مېشت شي او یا د ۱۴ ساعتونو اوږد جنجالي ...

۳مخ

# افغان کډوال او د کرونا ویروس وبا...

سفر وروسته کابل ته ولاړ شي. تر دې چې ځینې د فراه مرکز ته چې د موټر د څو ساعتونو اوږده لاره ده، ورسترتېدو ته زړه ښه کوي، خو له ډېرو هغو سره یې حتی بیا د لارې کرایه هم نه وي.

کله چې افغان کډوال له ایران څخه راستنیږي، موږ تر هر څه لومړی هغوی ته گرم خواړه ورکوو؛ ځکه موږ ته معلومیږي چې هغوی په ډېره بده توگه په بند کې وخت تېر کړی وي، دا خبرې د ایران سره په پوله یو افغان امنیتي چارواکي د کډوالۍ نړیوالې ادارې سره په خپله یوه مرکه کې کړي دي. نوموړي امنیتي چارواکي په خپلو خبرو کې دا هم ویلي چې راستانه شوي کډوال موږ لومړی ثبتوو او هڅه کوو چې د هغوی اړینو اړتیاوو؛ لکه، روغتیایي، استوگنې او حتی خپلو کورنیو او خپلوانو ته د هغوی لېږدولو په برخه کې لازمې مرستې ترسره کړو.

له ایران سره پر پوله په راستنو شویو کډوالو کې د ویروس ازموینې، تبې معلومولو او یا د هغوی قرنطین کولو په برخه کې افغان حکومت او نړیوالې ادارې د دې وړتیا نه لري ترڅو په یادو برخو کې له کډوالو سره مرستې وکړي او داسې اټکل کېږي چې په هرو راستنو شویو کډوالو کې نیمایي هغه یې په ویروس اخته وي، خو د ویروس ازموینې لپاره وسایل نه وي، نه د هغوی درملنه کېږي او نه قرنطین کېږي.

په داسې حال کې چې د شته ستونزو؛ لکه، د طالبانو سره د خبرو اترو نه پیلېدل، د متحده ایالتونو له خوا د ځواکونو ایستل او د مرستو کمولو گواښونه کېږي، هغه کډوال چې له ایران څخه افغانستان ته راستنیږي، د کرونا ویروس له ځان سره رانتقالوي چې دغه هېواد یې له سترې وبا سره مخ کړی دی.

د تازه څېړنو له مخې ښایي د کابل نیمایي نفوس په کرونا ویروس اخته شوی وي. او افغان حکومت داسې اټکل کوي چې ښایي د کرونا ویروس له امله ۱۱۰ زره کسان خپل ژوند له لاسه ورکړي. په داسې حال کې چې د ځینو شمېرو له مخې داسې اټکل هم کېدای شي چې دغه شمېره به شپږ ځله لوړه شي.

بل دا چې په اوس وخت کې زیاتره افغانان د کرونا په پرتله په جگړو ډېر وژل کېږي، خو دا چې په افغانستان کې د روغتیایي خدمتونو او ناروغیو له امله د مرگ کچې معلومولو په برخه کې کم معلومات نه شته، نو په همدې بنسټ د کرونا ویروس له امله د وژل شویو کسانو اصلي ارقام نه شي معلومېدلی چې څومره به وي. له بده مرغه افغانستان روانې وبا ته په ښه توگه چمتووالی نه لري او د ټول نفوس (۳٦ میلیون) څخه یو کم شمېرکسانو ټیسټونهکړي دي.

که څه هم چې پر ویروس د اخته کسانو معاینه ترسره کول د مسئلې اصلي اړخ دی، افغان حکومت په پام کې لري چې له نړیوال مارکیټ څخه ۵زره کیټونه وپېري، خو په اوس وخت کې د ازموینو ترسره کولو لپاره د کیټونو له پراخه کموالي سره مخ دی.

د عامې روغتیا وزارت ویاند وحیدالله مایار په وینا، هېواد یې ناروغانو ته د بسترونو، وینټیلېټرز (ساه اخیستلو ماشینونو) او د مسلکي کسانو په برخه کې د دې وړتیا نه لري ترڅو د ناروغانو په سمه توگه درملنه وشي او هر څه سم اداره شي.

له دې پرته دا چې د نړۍ په کچه افغان ولس د بې وزله ولسونو په کتار کې ځای لري، نو په همدې بنسټ دا هېواد د کرونا ویروس مخنیوي په برخه کې د اغېزناکه گرځبندیز پلي کولو وړتیا ځکه نه لري چې زیاتره خلک په ورځنۍ مزدورۍ غواړي خپل ژوند پرمخ بوځي.

په داسې حال کې چې افغان حکومت په اړمنو خلکو د خوراکي توکو د وېش لړۍ لپاره یو پروگرام پیل کړ، مگر ولیدل شول چې د یاد پروگرام لپاره یو اغېزناکه سیستم شتون نه درلود تر دې چې یو شمېر اړمنو خلکو ته په ډېر کم شمېر کې خوراکي توکي ورسېدل چې د هغوی اړتیا یې نه شوه پوره کولی.

دا چې زیاتره افغانان په حکومتي چارواکو باور نه کوي، نو په همدې اساس عام خلک دې ته هېڅ چمتووالی نه ښیي چې د یادو حکومتي چارواکو فرمانونه او غوښتنې دې پر ځان عملي کړي.

د کرونا ویروس په برخه کې د عامه پوهاوي نشتوالي او په روغتیایي کارکوونکو بې باوري عام خلک دې ته لیواله کړي چې هر څه په خپل لاس کې واخلي او دې کار بیا د ویروس له خپرېدو سره ډېره مرسته کړې ده. داسې چې په ویروس اخته کسان نه غواړي چې ټیسټونه یې ترسره شي او یا هیڅ د درملنې په لټه کې نه وي.

که وکتل شي، زیاتره خلک په غیر معیاري استوگنځیو کې ژوند کوي، داسې چې په یوه خونه کې څو تنه ژوند کوي او د هغوی جلا کول ستونزمن برېښي چې د ویروس خپرېدو ته لاره هواروي او دا کار بیا کولی شي ستونزه نوره هم پیچلې کړي.

د کرونا ویروس ستونزې ته په کتو، د افغانستان زیاتره سیمې چې د طالبانو تر ولکې لاندې دي، هلته ولیدل شول، یو شمېر طالبان چې ماسکونه یې اچولي وو، د کرونا ویروس پر وړاندې مبارزې ته یې کار وایه او په یو شمېر تازه ویډیوگانو کې لیدل کېږي چې دا ځل طالبان د خپلو جنگیالیو پر ځای چې فایرونه ترسره کوي، کور په کور گرځي د عامو خلکو د بدن تودوخه به یې کتله او پر هغوی به یې د میکروب ضد مایع وېشله او په دې توگه طالبانو هڅه کوله چې وښیي، د کرونا ویروس پر وړاندې مبارزې ته ژمن دي تر دې چې له ایران څخه د راستنو شویو کسانو تر دوو اونیو پورې د قرنطین کولو کلکه غوښتنه یې هم کوله.

له دې پرته طالبانو ادعا کوله چې د روغتیا په برخه کې د عامه پوهاوي لپاره یې ځانگړې ټیمونه او ډلې گمارلې، د درملو وېش او د قرنطین مرکزونه یې پرانیستي دي. که څه یو شمېر افغانان بیا شک څرگندوي چې طالبان د داسې ویډیوگانو په ښودلو سره داسې اراده لري ترڅو په افغان حکومت د خلکو باور له منځه یوسي.

د طالبانو فعالیتونو ته په پام سره داسې سرچینې او ادارې شتون نه لري، ترڅو د کرونا سره د مبارزې په برخه کې ترې په اغېزناکه توگه گټه پورته شي او داسې ښکارې چې په افغانستان کې د کرونا ویروس مخ پر زیاتېدو دی او حالت د ښه کېدو پر ځای مخ پر خرابېدو روان دي.

# د اروپایي ټولنې تازه اعلامیه؛

## افغان حکومت یې هرکلی، خو طالبانو یې له ځینو برخو سره مخالفت کړی دی



اروپایي ټولنې د افغانستان د سولې او تر سولې وروسته د خپل ملاتړ د دوام په اړه نوې اعلامیه خپره کړې ده. دغې اتحادیې ویلي چې دوی په افغانستان کې د سولې له پروسې ملاتړ کوي او تر سولې وروسته له افغانستان سره خپلو مالي او نورو مرستو ته ادامه ورکوي. اروپایي ټولنې د خپلو مرستو د دوام لپاره ځینې مخکینې شرطونه هم ایښي دي. افغان حکومت د اروپایي ټولنې له اعلامیې او ملاتړ هرکلی کړی، خو طالبانو بیا د هرکلي تر څنگ له ځینو مواردو سره مخالفت کړی دی. طالبان وایي، اروپایي ټولنې په ځینو برخو کې د افغانستان په کورنیو مسایلو کې مداخله کړې چې دا چاره به د سولې پروسه ټکنۍ کړي.

د افغانستان د سولې په اړه د نړیوالو هڅو او اقداماتو په دوام، تازه د اروپایي ټولنې د بهرنیو چارو وزیرانو هم د افغانستان په اړه خبرې کړې دي. دوی ویلي چې د سولې په صورت کې له افغانستان خپل ملاتړ ته ادامه ورکوي، خو د دې کار لپاره ځینې شرایط هم لري. اروپایي ټولنه په افغانستان کې د بشري او بنسټیزو پروژو د پر مخ بېولو تر ټولو ستر ملاتړی دی او اوس وایي چې مرستې یې په افغانستان کې د ښکېلو لورو لخوا د تاوتریخوالي له کموالي او جگړې له ختمولو سره تړلې دي. اروپایي ټولنې تر ټولو ډېر له طالبانو غوښتي چې د دوی غوښتنو ته جدي پام وکړي، تاوتریخوالی کم کړي، بین افغاني خبرو ته حاضر شي او جگړه پای ته ورسوي. اروپایي ټولنه وایي، د اسلامي امارت د راتگ او همدا راز د دغه ډول نظام د جوړېدو هېڅ راز ملاتړ نه کوي.

دغې ټولنې تر هر څه وړاندې دا غوښتي چې د روانې جگړې د پای ته رسېدو او سولې لپاره باید سیاسی لار پیدا شي چې د تېرو کلونو لاس ته راوړنې وساتي. د دغې ټولنې په اعلامیه کې راغلي چې د سولې په خبرو کې باید د بشري حقونو او ولسواکۍ ساتنه شوې وي. همدا راز یې پر ښکېلو لورو غږ کړی چې جگړې پای ته ورسوي او رامنځ ته شوی فرصت ضایع نه کړي. د اروپایي ټولنې په اعلامیه کې راځي: ((ټولې ډلې په تېره طالبان باید له رامنځته شوي فرصت د سولې د راتگ لپاره استفاده وکړي، جگړې دې ختمې کړي او افغان حکومت ته هم په کار ده چې ولس ته ځواب ویونکې، شفافه، ټول شموله اداره جوړه کړي او همدا راز ډاډ ورکړي چې د سولې لپاره جوړ کړی پلاوی یې هم ټول شموله دی)).

دې ټولنې پر طالبانو غږ کړی چې د سولې لپاره خپلې رښتینې اراده وښیي او همدا راز دې د باور فضا رامنځ ته کړي. اروپایي ټولنې له طالبانو غوښتي چې د ملگرو ملتونو د سرمنشي غوښتنې ته په پام بشري اوربند ته غاړه کېږدي او له جگړو لاس پر سر شي. سرچینه همدا راز وایي چې دوی د اسلامي امارت له راتگ هېڅ راز ملاتړ نه کوي او نه یې په رسمیت پېژني. دوی همدا راز ویلي چې روان وضعیت ته په کتو باید د سولې هڅې نورې هم چټکې شي او په خبره یې اروپایي ټولنه تیاره ده چې د افغانستان له خلکو او حکومت خپل ملاتړ ته ادامه ورکړي.

دغه اعلامیه د افغان حکومت له هرکلي سره مخ شوې ده. افغان حکومت وایي چې اروپایي ټولنه د افغانستان دایمي ملاتړې او همکاره پاتې شوې ده. افغان حکومت وایي، اروپایي ټولنې په تېرو ۱۹ کلونو کې له افغان حکومت سره په گډه د ترهگرۍ ضد جگړه مخ ته وړې او اوس یې هم افغان حکومت د دې پرېکړې هرکلی کوي چې له مخې یې له افغانستان خپل ملاتړ ته ادامه ورکوي.

طالبان بیا سره له دې چې د سولې په برخه کې د اروپایي ټولنې له همکارۍ او مرستې هرکلی کوي، خو ځینې خبرې یې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه بولي. د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد وایي، افغانان پخپله په بین الافغاني خبرو کې د خپل راتلونکي نظام د جوړښت په اړه پرېکړه کوي، نو ځکه په دې اړه د اروپایي ټولنې څرگندونې په کورنیو چارو کې لاسوهنه بلل کېږي چې ښایي د سولې هڅې له خنډ سره مخ کړي.

# له تورپوستو سره تبعضي چلند؛

## په امریکا کې د پولیسو لخوا د یوه تور پوستي د وژنې په غبرگون کې لاریونونه پر تاوتریخوالي اوښتي

د راپورونو له مخې، په امریکا کې د پولیسو له خوا د یوه بې وسلې تور پوستي سړي د وژنې په غبرگون کې د دغه هېواد په بېلابېلو ایالتونو کې لاریونونه د پراخېدو په حال کې دي.

د راپورونو له مخې، دغه کس د امریکا د میناسوتا ایالت په مینیاپولیس ښارگوټي کې د نیول کېدو په وخت کې ساه ورکړه.

لاریونوالو د سپین پوستو پولیس افسرانو لهخوا د بېوسلې افریقایيالاصله امریکایي وگړو د وژنو د نورو قضیو په اړه هم خپله سختې نیوکې کړې او پولیس یې په دې برخه کې پر تبعیضي چلن تورن کړي دي.

دا په داسې حال کې ده چې تازه د تېرې چهارشنبې په ورځ د میناسوتا ایالت یو پولیس افسر دیریک شاووین یو تور پوستی امریکایي جورج فلوید د جعلي پېسو د کارولو په تور ونیوه او د پولیسو حوزې ته تر وړلو وړاندې یې د خپل موټر په خوا کې لاندې وغورځوه، اورمېږ یې ورته د خپل زنگون لاندې کړ او په همغه ځای کې مړ شو.

د دغې پېښې ځینې ویدیوگانې په ټولنیزو رسنیو کې خپرې شوې چې ورسره په میناسوټا او د امریکا په نورو ښارونو کې پراخ لاریونونه شوي دي.

پاربدلي لاریونوال د جمعې په ورځ ناوخته د واشنگټن ډي سي په ښار کې د سپینې ماڼۍ مخې ته راټول شول او د پولیسو دا کړنه یې وغندله. راپورونه وایي چې د ولسمشر ټرمپ د ځانگړې گارد او لاریونوالو ترمنځ نښته هم شوې او د څه وخت لپاره سپینه ماڼۍ هم تړل شوې وه.

د امریکا د اورېگن ایالت په پورټلند کې هم لاریون په تاوتریخوالي اوښتی او مظاهره کوونکو د پولیسو یو دفتر سوځولی دی. دوی همدغه راز مغازې او دوکانونه هم لوټلي او له پولیسو سره یې نښتې کړې دي. د امریکا د نیویارک، لاس انجلس، جورجیا، لاس ویگاس او هیوسټن په ښارونو کې هم د دغې پېښې په غبرگون کې لاریونونه شوي دي.

د میناسوټا ایالت د مینیاپولیس په ښار کې هم مظاهره کوونکو د پولیسو یو مرکز سوځولی او لسگونه هټۍ او مغازې یې لوټ کړې دي.

په ورته وخت کې اسوشیټېډپرېس خبري آژانس ویلي چې د امریکا د دفاع وزارت د ځانگړو پولیسو قطعو ته سپارښتنه کړې ده چې مینیاپولیس ته ځواکونه واستوي.

په همدې حال کې د امریکا د متحدو ایالتونو د ملي گارد ۵۰۰ سرتېري دغه ښار ته استول شوي چې حالت کنترول کړي. ټاکل شوې چې د نن ورځ تر پایه پورې دغه ښار ته د امریکا د ملي گارد ۱۷۰۰ نور سرتېري هم واستول شي.

بلخوا لاریونوال، پولیس تورنوي چې تورپوستی جورج فلوید یې د نژادي تبعیض او تعصب په اساس وژلی دی، خو پولیس وایي چې هغه د نیول کېدو پر مهال مقاومت کاوه او له پولیسو سره یې همکاري ونه کړه.

د پولیسو تورن افسر دیریک شاووین نیول شوی او د خوشې کېدو لپاره یې باید ۵۰۰زره ډالر ضمانت کېښودل شي.


په همدې حال کې واشنگټن پوسټ ویلي چې د دغه پولیس افسر ښځې محکمې ته عریضه کړې او غواړي له خپل مېړه څخه طلاق واخلي.

## د کتــاب خبـرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### لومړۍ برخه
### د راتلونکي واګې په لاس کې واخله!
### پنځم څپرکی




۵. د متشبث کېدو لپاره کومې ځانګړتیاوې اړینې دي؟

متشبثین د نړۍ تر ټولو شتمن خلک دي. هغه مشهور یې هم پېژنو لکه، ریچارډ برانسون، ډونالډ ټرمپ، اوپرا وینفري، سټیو جابز، رابرټ مرداک او ټېډ ټرنر. خو تر ټولو شتمن متشبثین هغه دي چې ما او تا یې نوم نه دی اورېدلی، ځکه نه غواړي د مطبوعاتو پام ځان ته راواړوي. دوی په ارامه خپل شتمن ژوند کوي.

زیاتره وخت له خلکو دا پوښتنه اورم:«ایا متشبثین د تشبث له ځانګړتیاوو سره زېږي که تر زېږېدو وروسته پرمختګ کوي؟» ځینې خلک فکر کوي چې متشبثین استثنا خلک دي یا د متشبث کېدو لپاره یوه ځانګړې جادو ته ضرورت دی. زما په نظر متشبث کېدل دومره ستونزمن نه دي؛ یوازې لاس په کار شه.

زه به یو بېلګه درکړم. زموږ په ګاونډیانو کې یوه پېغله ده. د ماشومانو د روزنې کار یې پیل کړی دی. یو څو نورې ټولګیوالې یې هم له ځان سره په تنخوا نیولې دي. دا یوه متشبثه ده. یو بل هلک تر ښوونځي وروسته په پاتې نیمه ورځ کې د خلکو د کورونو خراب شوي سامانونه ترمیموي. دی هم متشبث دی. دا دواړه کم عمر لري. زیاتره ماشومان وېره نه لري؛ خو لویان بیا وېرېږي.

د خپل نبوغ موندنې، پرمختګ او کارونې ته زړورتیا اړینه ده!

نن میلیونونه خلک هیله لري چې خپلې تنخوا لرونکې دندې پرېږدي. تشبث وکړي او خپل کاروبار ولري. د ډېرو خلکو هیلې یوازې هیلې پاتې شوې. څه یې ونه کړل. اوس پوښتنه دا ده چې ولې ډېر خلک د متشبث کېدو په هیلو کې ناکامېږي؟

یوه ملګرې مې تکړه سلمانه ده. په سینګارولو کې یې وړې. له ډېرې مودې وایي چې د وېښتانو جوړولو سالون پرانیزم. ښه لوی لوی پلانونه هم ورته لري؛ خو بېچاره اوس هم د بل چا تر لاس لاندې د هغه په سالون کې یوې چوکۍ ته ولاړ ده او د خلکو وېښتان جوړوي.

یو بل ملګری لرم. مېرمن یې په الوتکه کې له خدمت کولو ستړې شوې وه. دوه کاله وړاندې یې دنده پرېښوده. د وېښتانو جوړولو کورس ته لاړه چې سلمانه شي. یوه میاشت مخکې یې د سلمانۍ د سالون پرانیسته وه. ډېر ښایسته چاپېریال یې جوړ کړی او تکړه کسان یې ګومارلي دي.

کله چې مې لومړۍ ملګرې د دې د وېښتانو له سالونه خبره شوه، ویې ویل:((سالون یې څنګه پرانیستی دی؟ دا استعداد نه لري. وړتیا نه لري. زما په څېر یې په نیویارک کې د وېښتانو جوړولو مسلکي زده کړې نه دي کړې او تر ټولو غټه خبره دا چې هېڅ تجربه نه لري. د دې کار یو کال هم دوام نه کوي او زر ناکامېږي.))

دا خو د دې خبرې وې؛ خو زما په اند ښایي برعکس، د هغې پر ځای دا ناکامه شي. شمېرنو ښودلې چې ۹۰ سلنه کاروبارونه په لومړیو پنځو کلو کې ناکامېږي. خو دا هم ویلای شو چې کېدای شي دا بریالۍ شي. اصلي خبره دا ده چې دا لاس په کار شوه. د دې زړورتیا د دې د ژوند په جوړولو کې رول لري. په نړۍ کې د خپل نبوغ د موندنې، پرمختګ او کارونې لپاره زړورتیا اړینه ده.

هغه خلکو چې په لاټرۍ کې یې درې میلیونه ډالره ګټلي، ۸۰ سلنې یې خپلې ټولې پیسې په دریو کلو کې بایللې دي. ولې؟ ځکه یوازې پیسې لرل څوک نشي شتمنولای. دغه پیسې یوازې د دوی په بانکي حسابونو کې زیاتېږي. دوی یوازې پیسې پیدا کوي، فکر یې تغییر نه کوي. د شتمنېدو لپاره شتمن دماغ اړین دی.

ستاسو فکر ډېر پراخ دی؛ خو شک او وېرې مو محدود کړی دی. د Atlas Shrugged کتاب لیکوال این رانډ لیکي:((شتمني د فکر کولو لپاره د انسان ځواک دی.)) اوس که ته د ژوند بدلولو په فکر کې یې، نو داسې چاپېریال به در وپېژنم، چې ذهن ته به دې د فکر کولو زمینه برابره کړي او ډېر به شتمن شې.

چې لوی شې، څه کول غواړې؟

کله چې ماشوم وم، اصلي پلار به مې راته ویل:((ښونځي ته ولاړ شه او ښې نومرې واخله، نو ډاډه او مصئونه دنده به ومومې.)) پلار مې زه د E کونج ته پورې وهلم او مور مې غوښتل چې ډاکټر یا وکیل شم. ویل یې:((که ډاکټر یا وکیل شې، نو داسې کار به دې وي چې کله به هم له منځه نه ځي.)) مور مې زه د S کونج ته برابرولم. خو شتمن پلار مې راته ویل، که غواړې شتمن شې، نو باید تجارت یا پانګونه وکړې. ده بیا زه B یا I کونج ته وربللم.

کله چې له ویتنام څخه راوګرځېدم، باید د یوې مشورې په اړه مې پرېکړه کړې وای. ښایي تاسو هم له دې شي سره مخ یاست.

د خپل تجارت جوړولو یو دلیل وقار او درنښت لرل دي. د دې دلیل ارزښت ته په کمه سترګه مه ګوره. دا نړۍ له ځوروونکو او تنګ‌نظره خلکو څخه ډکه ده، هغه که ستا مشر وي، که دې مدیر، ګاونډی او ان ملګری. تاسو باید د نورو خلکو تر فشار لاندې را نشئ. تاسو په ځان کې یو داسې همت پیدا کولو ته اړتیا لرئ چې د ځوروونکو خلکو په کیسه کې نشئ. تاسو د ځان لپاره د فکر او کار کولو ازادي غواړئ.

**دوام لري...**

# سبا د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي



سبا د لوړو زده کړو موسسې په ۱۳۹۵ لمریز کال کې د افغانستان له لوړو زده کړو وزارت څخه د فعالیت جواز تر لاسه کړی او د دغه وزارت د خصوصي پوهنتونونو او موسسو له ریاست سره په ۱۲۴مه مسلسله شمېره ثبت شوې او په کندهار ولایت کې فعالیت کوي.

د دې موسسې د علمي چارو مرستیال محمد نسیم رسولي وایي، له لوړو زده کړو وزارت څخه یې د درېو پوهنځیو جوازونه تر لاسه کړي، خو تر اوسه پورې یې دوه پوهنځي فعال کړي دي.

ښاغلی رسولي وایي، د انجنیرۍ، اقتصاد او کمپیوټر ساینس پوهنځیو جوازونه لري، خو تر اوسه یې یوازې اقتصاد او کمپیوټر ساینس پوهنځیو ته کسان جذب کړي او فعال کړي یې دي. دی وایي، اقتصاد پوهنځی یې درې ډیپارټمنټونه (اداره او تجارت، ملي اقتصاد او بانک داري لري). دغه راز سبا د لوړو زده کړو موسسې د کمپیوټر ساینس پوهنځی هم درې ډیپارټمنټونه (سافټویر انجنیرنګ، معلوماتي ټکنالوژي او معلوماتي سیستمونو) ډیپارټمنټونه لري.

سبا د لوړو زده کړو موسسې له پیله تر اوسه پورې اووه متفرقه کانکور ازموینې اخیستي، چې اوسمهال دا موسسه د اقتصاد په پوهنځي کې ۷۵۶ محصلین او په کمپیوټر ساینس پوهنځي کې بیا ۳۲۳ تنه محصلین لري، چې ښځینه محصلینې هم پکې دي.

محمد نسیم رسولي وایي، سبا د لوړو زده کړو موسسه د افغانستان د ۱۵ ولایتونو؛ لکه، اروزګان، بلخ، بغلان، تخار، پکتیکا، زابل، غزني، غور، کابل، کندهار، لغمان، ننګرهار، وردګ، هرات او هلمند څخه محصلین لري. دی وایي، د ورځې په دوو وختونو کې محصلین د زده کړو لپاره ورغواړي، خو په خبره یې چې تر اوسه پورې یې کومه دوره محصلین نه دي فارغ کړي.

د دې موسسې د استادانو او نورو اداري کارکوونکو شمېر د ۴۴ په شاوخوا کې دی، چې د ښاغلي رسولي په خبره، ځینې استادان یې د ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. دی وایي، سبا د لوړو زده کړو موسسه په پام کې لري چې د موسسې په مالي لګښت سره په کور د ننه یا بهر کې د خپلو علمي کادرونو د ظرفیت لوړونې په موخه د ماسټر رسمي استادانو لپاره د دوکتورا او لېسانس رسمي استادانو لپاره د ماسټرۍ زمینه برابره کړي. د دې موسسې د علمي چارو مرستیال وایي، تر اوسه پورې له کورنیو او بهرنیو پوهنتونونو سره علمي اړیکې یا هوکړې نه لري، خو په وینا یې، په کندهار کې له دولتي او درې نورو خصوصي پوهنتونونو او موسسو سره او دغه راز په کابل کې له ابن سینا او خاتم النبیین پوهنتونونو سره پر هوکړو یې کار روان دی، چې ډېر ژر به یې کارونه پای ته ورسېږي او له یادو پوهنتونونو سره به هوکړې ولري، چې له مخې به یې له یادو پوهنتونونو سره خپلې تجربې شریکوي او د هغوی له تجربو به ګټه اخلي. تر څنګ به یې د دوی استادان او نور کارکوونکي د یادو پوهنتونونو له لوري په جوړو شویو سمینارونو او ورکشاپونو کې برخه اخلي.

سبا د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو لپاره فزیکي او ډیجیټلي کتابتونونه لري، چې محصلین کولی شي له دغو کتابتونونو څخه د خپلې مطالعې او څېړنې لپاره ګټه واخلي. ښاغلی رسولي وایي، په دواړو کتابتونونو کې د فعالو پوهنځیو اړوند او نور د ازادې مطالعې لپاره ګڼ‌ور کتابونه لري. د کتابتون تر څنګ سبا د لوړو زده کړو موسسه مجهز کمپوټر لب او د کنفرانس خونه لري. نوموړی وایي، دا چې تر اوسه پورې دوی کومه دوره محصلین نه دي فارغ کړي، نو د کارموندنې مرکز نه لري، خو په پام کې لري چې دغه ډول یو مرکز جوړ کړي تر څو وکولی شي له فارغېدونکو محصلینو سره د دندو په پیدا کولو کې مرسته وکړي.

محمد نسیم رسولي وایي، وخت ناوخته د خپلو محصلینو د وړتیا لوړولو لپاره ورکشاپونه او سمینارونه دایروي.

په ټوله کې سبا د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو لپاره تخفیف لري، خو د ښاغلي رسولي په خبره د ښځینه محصلینو لپاره ۸۰ سلنه، د معلولو محصلینو لپاره ۷۰ سلنه او د پاتې نورو محصلینو وړتیاوو ته په کتو ۵۰ او ٦۰ سلنه تخفیف لري. دی وایي، له دې پرته په کندهار ولایت له یو شمېر امریتونو او ریاستونو سره د هوکړې له مخې هغو کسانو ته هم مناسب تخفیف ورکوي، چې له مسلکي لیسو فارغ وي او یا هم د دغو ریاستونو او امریتونو لخوا دوی ته ور پېژندل شوي وي.

د سبا د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستیال د دولتي او خصوصي پوهنتونونو د توپیر په اړه وایي، معلومه خبره ده چې دولتي پوهنتونونه د امکاناتو، د استادانو په ګومارلو او نورو برخو کې دولتي ملاتړ لري، چې خصوصي پوهنتونونه یې نه لري، خو که خبره د تدریسي مېتود او نورو امکاناتو شي، بیا خصوصي پوهنتونونه تر دولتي هغو هم غوره دي؛ ځکه دوی له محصلینو څخه پیسې اخلي او په بدل کې یې غوره امکانات ورته برابروي او تر ډېره هڅه کوي چې په مارکېټ کې ښه نوم ولري او په دې برخه کې لا پرمختګ وکړي.

د دې موسسې اداره وایي، په راتلونکو پلانونو کې به لومړی د انجنیرۍ پوهنځی فعال کړي؛ ځکه مخکې یې له لوړو زده کړو وزارت څخه جواز هم تر لاسه کړی او له هغه وروسته په پام کې لري، چې د عامه اداري پوهنځي جواز هم واخلي. رسولي وایي، د دې لپاره چې یوه موسسه پوهنتون ته ارتقا وکړي، باید پنځه پوهنځي ولري. دی وایي، نو د دې موخې لپاره به کار کوي او د خپلو پوهنځیو شمېر به پنځو ته پورته کوي چې ترڅنګ به یې په ټولو برخو کې د کیفیت لوړولو ته هم پام کوي. دی وایي، څه موده مخکې له لوړو زده کړو وزارت څخه ورته پلاوی لېږل شوی و چې په خبره یې، د ارزونې پایلې یې هم مثبتې وې.

د دې موسسې د مشرتابه په خبره، اوسمهال په ټول افغانستان کې ۱۳۱ خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې فعالې دي، چې د تدریس چارې پکې د نږدې ۱۲ زره کادري غړو لخوا مخ ته وړل کېږي او په اداري او خدماتي برخه کې ۲۲ زره نور کسان په کار بوخت دي او په ډېره لوړه کچه پکې پانګونه شوې ده، نو لوړو زده کړو وزارت ته پکار ده چې په دې برخه کې د خصوصي سکتور لاسنیوی وکړي او په هر اړخیزه توګه ورسره مرسته وکړي. رسولي وایي، هغه معیارونه چې لوړو زده کړو وزارت د خصوصي پوهنتونونو لپاره ټاکلي، په ډېره لوړه کچه دي چې عملي کول یې ان په دولتي پوهنتونونو کې چې د دولت هر اړخیز ملاتړ ور سره دی، ستونزمن دي. دی وایي، لوړو زده کړو وزارت ته پکار ده چې په هر اړخیزه توګه له خصوصي پوهنتونونو سره مرسته وکړي، د محصلینو او استادانو د ظرفیت لوړولو او تحقیقي مرکزونو او سمینارونو جوړولو په برخه کې یې ملاتړې اوسي. د نوموړي په خبره، لوړو زده کړو وزارت ته همدا راز پکار ده چې د ولایتونو دولتي پوهنتونونه په اړوند ولایت کې له خصوصي پوهنتونونو سره په ټولو برخو کې همکار اوسي او لارښوونه ورته وکړي.

اقتصاد

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۵۵ |
| € | ۸۳,۵۰ |
| Rp. | ٤۷۲ |
| ₹ | ۹۵۰ |
| ¥ | ۱۰,۷۰ |
| £ | ۹۱,۵۰ |

## بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# نزدیک بینی چشم چیست؟ علائم، عوارض و راه‌های پیشگیری و درمان آن

ترجمه: امین همتی

یکی از رایج‌ترین عیوب چشم در جهان، نزدیک بینی است. این عارضه گرچه درمان‌های ساده‌ای دارد، اما اگر به حال خود رها شود، کیفیت زندگی و شغل افراد را تحت تاثیر قرار می‌دهد و مشکلات بزرگ‌تری را با خود به همراه می‌آورد. در این مقاله، درباره علت نزدیک بینی چشم، علائم و پیامدهای آن و درمان نزدیک بینی چشم صحبت می کنیم. با ما تا انتهای این مقاله همراه باشید.

نزدیک بینی چشم چیست؟

نزدیک بینی یکی از عیوب رایج انکساری چشم است. کسی که چشمان نزدیک بین دارد، اجسامی را که در فاصله نزدیک قرار گرفته‌اند به‌خوبی می‌بینند اما اجسام دور را تار مشاهده می کند.

علت نزدیک بینی چشم

علت این عارضه به ساختار و عملکرد چشم مربوط است. چشم ما یک ساختار پیچیده اپتیکی است که بخش‌های مختلفی دارد. یکی از این بخش‌ها قرنیه و عدسیه در جلوی چشم و شبکیه در انتهای آن است. در یک چشم سالم، پرتوهای نور، پس از بازتاب از یک جسم ازطریق قرنیه وارد چشم شده و به‌کمک عدسیه، شکسته می‌شوند؛ به‌طوری‌که در انتهای چشم، که محل شبکیه است، متمرکز می‌شوند. حال، اگر چشم دچار نزدیک بینی باشد، نقطه کانونی تجمع پرتوهای نور کمی جلوتر از شبکیه قرار می گیرد که این باعث تار دیدن اجسام در فواصل دور می‌شود.

نزدیک بینی چشم معمولا به‌دلیل بزرگی بیش از حد کره چشم و یا خمیدگی زیاد قرنیه (قوز قرنیه) رخ می‌دهد.

علائم نزدیک بینی چشم

علائم این عارضه به‌راحتی قابل‌تشخیص است. این علائم عبارت‌اند از:

تاریکی دید هنگام نگاه کردن به اجسام دور؛

نیاز به تنگ‌کردن چشم‌ها یا نزدیک‌کردن پلک‌ها به هم برای دیدن اجسام دور؛

سردرد ناشی از تماشای فاصله های دور؛

کاهش دید در فاصله های دور هنگام رانندگی به‌خصوص در شب.

این عارضه در دوران کودکی و هنگام معاینات پیش از ورود به مکتب در کودکان شناسایی می‌شود. کودکانی که چشمان نزدیک بین دارند معمولا رفتارهای زیر را بروز می‌دهند:

تنگ‌کردن چشم‌ها به‌طور مداوم؛

نیاز به نشستن جلوی تلویزیون یا روی صندلی‌ها یا روی نیمکت‌های ردیف جلوی صنف ها؛

ناتوانی در دیدن اجسام از راه دور؛

پلک‌زدن زیاد؛

مالیدن مداوم چشم‌ها.

چه کسانی به نزدیک بینی چشم دچار می شوند؟

عوامل ارثی مهم‌ترین دلیل بروز این عارضه هستند. اگر فردی پدر یا مادر نزدیک بین داشته باشد، احتمال این که خودش هم به این عارضه دچار شود، افزایش می‌یابد. همچنین برخی تحقیقات نشان داده است کودکانی که زیاد در خانه می‌مانند، بیشتر از بقیه کودکان به نزدیک بینی مبتلا می‌شوند.

پیامدهای نزدیک بینی چشم کدام‌اند؟

این عارضه مانند هر مشکل جسمانی دیگری، اگر به حال خود رها شود، پیامدهایی روی زندگی فرد دارد. این پیامدها شامل موارد زیر هستند:

کاهش کیفیت زندگی و عملکرد شغلی؛

سردرد و چشم درد؛

به‌خطرافتادن جان خود و دیگران، به‌ویژه هنگام رانندگی یا کارهای حساس؛

هزینه‌های سنگین مالی ناشی از معاینات پی‌درپی و اقدامات درمانی؛

آسیب‌های بیشتر ناشی از نزدیک بینی شدید به چشم، مانند آسیب به شبکیه چشم، آب مروارید، خون‌ریزی رگ‌های خونی چشم و... .

چه زمانی باید به داکتر مراجعه کنید؟

مشکلات بینایی همیشه به‌راحتی خودشان را نشان نمی‌دهند؛ پس باید به‌صورت دوره‌ای برای معاینات چشم به داکتر چشم مراجعه کنید. این دوره‌ها در کودکان و بزرگ‌سالان متفاوت است.

کودکان باید یک بار در ٦ماهگی، یک بار در ۳سالگی، یک بار قبل از صنف اول مکتب و پس از آن، هر ۲ سال یک بار معاینه شوند.

بزرگ‌سالان به دو دسته تقسیم می‌شوند:

گروهی که احتمال بیشتری دارد که به بیماری‌های چشم مبتلا شوند یا هم‌اکنون به یکی از این عیوب گرفتار هستند، باید هر یک تا ۲ سال یک بار برای معاینه چشم و بررسی وضعیت چشمان خود مراجعه کنند.

گروه دوم افرادی هستند که چشمان سالمی دارند و فعلا نشانه‌ای از بروز عارضه در آنها مشاهده نمی‌شود. معاینه چشم این گروه به این بستگی دارد که چند سال‌شان است:

از ۲۰ تا ۳۹سالگی، هر ۵ تا ۱۰ سال یک بار؛

از ۴۰ تا ۵۴سالگی، هر ۲ تا ۴ سال یک بار؛

از ۵۵ تا ٦۴سالگی، هر ۱ تا ۳ سال یک بار؛

از ٦۵سالگی به بعد، هر سال یک بار یا ۱ سال در میان.

درمان نزدیک بینی چشم

درمان عیوب انکساری چشم به سه روش امکان پذیر است: استفاده از عینک، لنزهای طبی و جراحی لیزر.

عینک ساده‌ترین روش رفع نزدیک بینی چشم است. داکتر چشم پس از مشخص‌شدن شدت نزدیک بینی، شماره عینک را تعیین می کند. در عینک‌هایی که برای رفع این عارضه تجویز می‌شوند، عدسیه های شکل پایین به کار می‌روند.

روش دیگر استفاده از لنز طبی است. این روش برای کسانی که به هر دلیل، علاقه‌ای به عینک ندارند مفید است. بااین‌حال، لنزهای طبی به‌دلیل تماس مستقیم با چشم، نیاز به مراقبت و ضدعفونی مداوم دارند. درنهایت، اگر هیچ‌کدام از روش‌های بالا کارساز نباشند، به‌صورتی‌که شدت نزدیک بینی در مدت کوتاهی بیشتر شود یا خود بیمار اصرار بر جراحی داشته باشد، داکتر از جراحی لیزر برای رفع این عیب استفاده می کند؛ البته ممکن است جراحی لیزر به‌طور کامل نزدیک بینی را بر طرف نکند و بازهم نیاز به استفاده از عینک یا لنز با نمره پایین‌تر باشد.

در جراحی لیزر، قرنیه چشم که دچار خمیدگی زیاد شده، برش و شکل داده می‌شود تا به حالت طبیعی‌اش برگردد.

روش‌های پیشگیری یا توقف افزایش نزدیک بینی چشم کدام‌اند؟

اگرچه نزدیک بینی یک عارضه ارثی است، اما برخی درمان‌ها یا تغییراتی در سبک زندگی کودکان و نوجوانان می‌تواند در پیشگیری و توقف رشد بیماری مؤثر باشد.

قطره چشمی حاوی آتروپین از موادی است که کاربردهای متداولی در چشم‌پزشکی دارد. تحقیقات نشان داده است که استفاده از این قطره احتمالا جلوی بیشترشدن نزدیک بینی را می گیرد؛ البته چگونگی این اتفاق هنوز روشن نشده است.

مطالعات دیگر نشان داده است که اگر کودکان و نوجوانان به قدر کافی فعالیت‌های خارج از خانه داشته باشند و در معرض نور خورشید قرار بگیرند، احتمال ابتلا به عیوب انکساری مانند نزدیک بینی در آنها کاهش می‌یابد.

همچنین نوع جدیدی از لنزهای طبی و روش‌های خاص استفاده از آن به بازار آمده است که می‌تواند جلوی پیشرفت عارضه در کودکان را بگیرد یا روند افزایش شدت آن را کاهش دهد؛ البته استفاده از این لنزها و روش‌ها باید با مشورت داکتر صورت گیرد.

راه دیگری که برای درمان نزدیک بینی به کار می‌رود، اورتوکراتولوژی یا شکل‌دهی مجدد قرنیه با لنز تماسی (Orthokeratology) است. در این شیوه، بیمار به‌مدت چند ساعت در روز، نوعی لنز تماسی را استفاده می کند تا انحنای چشمش از بین برود. اثر این شیوه موقتی است و با قطع آن، چشمان فرد به حالت قبلی خود برمی‌گردد.

# مالیې وزارت: سعودي عربستان د افغان کډوالو د راستنولو له پروسې سره د ۳۰ میلیونه ډالرو مرسته وکړه

د مالیې وزارت د افغان کډوالو د داوطلبانه راتګ په موخه د سعودي عربستان سفارت او د پناه غوښتونکو لپاره د ملګرو ملتونو سازمان عالي کمشنرۍ دفتر سره د همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک کړ.

مالیې وزارت وایي، په ټوله کې د دې هوکړې ارزښت ۳۰ میلیونه امریکایي ډالر دی چې په څو پړاوونو کې به پلې شي.

د مالیې وزارت ویاند شمروز خان مسجدي ویلي چې تېره ورځ د یاد هوکړه لیک لومړی فاز د ۱۰ میلیونه ډالرو په ارزښت لاسلیک شو چې د ۲۰۲۱ کال تر پای پورې به پلې شي.

د هغه په وینا، د دې هوکړه لیک لومړی پړاو په ۱۲ ولایتونو کې د ۷ روغتیایي مرکزونو او کلینیکونو جوړول، په ۸ ولایتونو کې د ۱۳ ښوونځیو جوړول او په بېلابېلو ولایتونو کې د ۱۱ کوچنیو او متوسطو زیربنایي پروژو پلي کول دي.

مسجدي وایي، یادې پروژې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو سازمان عالي کمېشنرۍ له لوري پلي کیږي چې د ملي بودیجې څخه بهر د سعودي عربستان پراختیایي صندوق له لوري تمویلېږي.

سرچینې زیاته کړې، یادې پروژې د روغتیایي وضعیت ښه کېدو، پوهنې او د هغو افغان ګډوالو لپاره چې بېرته وطن ته راستنېږي، په زیربنایي چارو کې به مرسته وکړي. نور فازونه یې چې ۲۰ میلیونه ډالر کیږي، د لومړي فاز په ختمېدو سره به په راتلونکو پړاوونو کې پلي شي.

د مالیې وزارت سرپرست عبدالهادي ارغندیوال، چې د افغانستان لپاره د سعودي عربستان له سفیر او په افغانستان کې د پناه غوښتونکو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ دفتر له رییس سره په همدې موخه ناسته درلوده، د افغان کډوالو بېرته راستنېدو او له کرونا ویروس سره د مبارزې په برخه کې د سعودي عربستان شاهي هېواد له مرستو او همکاریو مننه وکړه.

هغه زیاته کړه، چې د افغانستان حکومت د افغان کډوالو د بېرته راستنېدو غوښتونکی دی او هڅه کوي، چې د هغوی لپاره اړینه زېربنا برابره کړي. همدا شان د مالیې وزارت سرپرست، د پناه غوښتونکو لپاره د ملګرو ملتونو سازمان عالي کمېشنرۍ څخه وغوښتل، چې لګښتونه دې په رڼه توګه او اغېزمن ترسره کړي.

# راپورونه: په ټول هېواد کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې په تېره میاشت کې شپږ برابره ډېرې شوې

د راپورونو له مخې، په افغانستان کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې په تېره یوه میاشت کې شپږ برابره زیاتې شوې دي.

هغه ارقام چې د ثور میاشتې له ۱۰ مې تر دې مهاله خپاره شوي، دا په ډاګه کوي چې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له دوو زرو څخه ۱۴ زرو ته لوړې شوې.

د عامې روغتیا وزارت مرستیال وحیدالله مجروح تېره ورځ رسنیو ته په استولي پیغام کې ویلي، که له دغه ویروس سره جدي مبارزه ونه‌شي، په هر کور کې به خلک پرې اخته شي.

مجروح زیاته کړې: «د کرونا ویروس له بده مرغه په افغانستان کې فاجعه رامنځته کوي، وروستۍ شمېرې ښیي چې پېښې په زیاتېدو دي، که خلک همکاري ونه کړي، ډېر به اخته شي او له دې سره به د افغانستان روغتیایي سیستم هم تر فشار لاندې راشي.»

مجروح ویلي، په افغانستان کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر اوسمهال ۱۴،۵۲۵ ته رسېدلی دی. د ده په خبره، په تېرو ۲۴ ساعتونو کې ۸٦٦ مثبتې پېښې ثبت شوې دي.

د عامې روغتیا وزارت د معلوماتو له مخې، تر اوسه ۱،۳۰۰ کسان له کووېډ-۱۹ ناروغۍ روغ شوي او ۲۴۹ تنه بیا د دغه ویروس له امله مړه شوي دي.

په همدې حال کې روغتیا پالان هم د دغه ویروس خپرېدو اندېښمن کړي دي. په کابل کې د انتاني روغتون رییس ډاکتر اسدالله عصمت وایي، د کرونا د خپرېدو بڼه اوس بدله شوې ده.

عصمت زیاته کړې: «هغه علایم چې پخوا زیاد وو، اوس کم شوي او د محرقې په نوم یې درملنه کوي، دا د کرونا همغه بڼه ده، خو لږ خفیفه ده، د کرونا اساسي تداوي چې د هغه واکسین دی، تر اوسه نه دی جوړ شوی.»

نوموړي له خلکو غوښتي چې د کرونا واکسین تر جوړېدو پورې د عامې روغتیا وزارت سپارښتنو ته جدي پاملرنه وکړي. د یادونې ده چې د حکومت له لوري په وار وار له ټینګار سره سره، لا هم خلک کرنتین په جدي توګه په پام کې نه نیسي او عادي چلند ورسره کوي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL
PRINTING CO
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
STAY HOME
STAY SAFE
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

یکشنبه د ۱۳۹۹ د غبرګولي ۱۱مه | د ۲۰۲۰ د مې ۳۱مه | ۵٤۱مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۰ | لمر ختل ۰٤:٤۲ | ماسپښین ۱۱:۵۲ | مازیګر ۰۳:۳۸ | ماښام ۰۷:۰۱ | ماخوستن ۰۸:٤۵

## نړۍ




له توروپوستو سره تبعیضي چلند؛

# په امریکا کې د پولیسو لخوا د یوه تور پوستي د وژنې په غبرګون کې لاریونونه پر تاوتریخوالي اوښتي

۳

## راپورونه: په نړۍ کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر نږدې ۳۷۰ زرو کسانو ته ورسېد



د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر له شپږو میلیونونو واوښت. د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ۳٦۸ زره او ۸۱۸ مړه شوي او نږدې درې میلیونه کسان بېرته رغېدلي دي.

د تازه شمېرو پر اساس امریکا لاهم د کرونا ویروس د مړو او قربانیانو د شمېرو له مخې په ټوله نړۍ کې مخکښ هېواد دی. د دغو شمېرو پر اساس په امریکا کې د یاد ویروس ټولې مثبت پېښې ۱.۸ میلیونو او د مړو شمېر پکې ۱۰۵ زره او ۴۳ تنو ته رسېدلې دی. له امریکا وروسته برازیل د ۴٦۹ زره او ۵۱۰ مثبتو پېښو او ۲۸ زره او ۱۵ مړو په درلودو سره دویم، بریټانیا د ۲۷۲ زره او ۸۲٦ مثبتو پېښو او ۳۸ زره او ۳۷٦ مړو له کبله دویم، ایټالیا د ۲۳۲ زره او ٦٦۴ مثتبو پېښو او ۳۳ زره او ۳۴۰ مړو په درلودو سره درېیم، فرانسه د ۱۸٦ زره او ۸۳۵ مثبتو پېښو او ۲۸ زره او ۷۱۴ مړو له کبله څلورم، اسپانیا د ۲۸٦ زره او ۳۰۸ مثبتو پېښو او ۲۷ زره او ۱۲۵ مړو له کبله پنځم هغه هېوادونه دي چې د یاد ویروس له کبله پکې تر ټولو ډېر کسان مړه شوي دي.

دغه راز روسیه بیا له امریکا او برازیل وروسته د نړۍ درېیم هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې مثبت پېښې پکې ثبت شوې دي.

## ټرمپ: امریکا په رسمي توګه د روغتیا له نړیوال سازمان سره خپلې اړیکې پرې کړې

له څو اونیو پرله پسې ګواښونو وروسته د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ تېره ورځ په رسمي توګه اعلان وکړ چې له روغتیا نړیوال سازمان سره سر له نن(پرون) څخه اړیکې پرې کوي. ډونالد ټرمپ یو ځل بیا د کرونا ویروس مدیریت په اړه د روغتیانړیوال سازمان پر فعالیتونو کلکې نیوکې کړې دي. هغه چې په سپینه ماڼۍ کې یې خبریالانو سره خبرې کولې، زیاته کړې: «په دې خاطر چې د روغتیا نړیوال سازمان ونه توانېد د اړتیا وړ وړاندیز شوي اصلاحات تر سره کړي، موږ نن ورځ د روغتیا له نړیوال سازمان سره خپلې اړیکې قطع کړې او له دغه سازمان سره برابرې شوې مرستې به د اړتیا وړ نورو نړیوالو روغتیایي برخو کې مصرف کړو.» ټرمپ ویلي، چې چین د روغتیا پر نړیوال سازمان باندې پوره کنټرول لري او د امریکا متحده ایالتونو په پرتله چې له دغه سازمان سره ۴۵۰ میلیون ډالره مرسته کوي، چین له دغه سازمان سره یوازې ۴۰ میلیون ډالر مرسته کوي. د روغتیا نړیوال سازمان تر دې مخکې د واشنګټن ورته نیوکې رد کړې او ویلي یې دي چې د کرونا ویروس له پیدا کېدو سره د یاد ویروس مخنیوي په برخه کې یې شپه او ورځ هلې ځلې کړې او د دغه سازمان ټول غړي هېوادونه یې د دغه ویروس په اړه خبر کړي دي.

## وزارت داخله: در اثر انفجار بر موتر کارمندان تلویزیون خصوصی خورشید دو تن کشته و چهار تن زخمی شده اند



وزارت امور داخله می‌گوید که در اثر انفجار بر موتر کارمندان تلویزیون خصوصی خورشید دو تن کشته و چهار تن زخمی شده اند.

مروه امینی معاون سخنگوی این وزارت گفت، تمامی قربانیان رویداد دیروز کارمندان این تلویزیون بودند که در موتر نوع هایس از دفتر به سوی خانه های شان می‌رفتند.

ماین مقناطیسی جابجا شده در موتر حامل کارمندان تلویزیون خصوصی خورشید پس از چاشت دیروز (۱۰ جوزا) در نزدیک چهارراهی کلوله پشته شهر کابل انفجار کرد.

رفیع صدیقی، مدیر مسؤل تلویزیون خصوصی خورشید تأیید می‌کند که در نتیجهٔ انفجاری دیروز، یک خبرنگار و یک کارمند بخش فنی این تلویزیون جان باخته‌اند.


به گفتهٔ آقای صدیقی، این انفجار حوالی ساعت پنج‌ونیم پس از چاشت دیروز هنگامی در مربوطات حوزهٔ چهارم امنیتی شهر کابل رخ داد که موتر حامل کارمندان تلویزیون خورشید، این کارمندان را به‌سوی خانه انتقال می‌داد.

در عین حال گروه طالبان دست داشتن در این انفجار را رد کرده و تا هنوز کدام گروه دیگر نیز مسئولیت این انفجار نپذیرفته است.

این در حالیست که سال گذشته نیز به تاریخ ۱۵ ماه می موتر حامل کارمندان این تلویزیون در سرک پنجم تایمنی شهر کابل هدف انفجار ماین مقناطیسی قرار گرفت که بشمول یک رهگذر دو تن کشته و سه تن زخمی شدند.


## ژوند

## د هندوانې ګټې



که په اوسني موسم کې د تازه مېوو خبره وکړو، نو یوه یې هم هندوانه ده، چې نه یوازې د ګرمۍ په موسم کې د بدن د اوبه پوره کوي، بلکې د زړه د ناروغیو لپاره هم ډېره ګټوره مېوه ده. هندوانه چې نه یوازې ډېره خوندوره مېوه ده، بلکې اوبه او په زیاته کچه فایبر لري چې د هاضمې سیستم هم ښه کوي. په هندوانه کې ویټامین سي، اې، میګنېزیم، پوټاشیم، ویټامین بي یو او بي پنځه شامل دي، چې د بدن او روغتیا لپاره ډېر ګټور دي. روغتیاپالان همدا راز وايي، چې هندوانه د زړه د روغتیا لپاره هم ډېره ګټوره مېوه ده. دا هغه مېوه ده چې د کلېسټرولو او د وینې فشار کچه کموي. هغه کسان چې په بډوډو کې شګې لري، که هره ورځ په کافي اندازه هندوانه وخوري، د بډوډو شګې یې له منځه ځي. پر دې سربېره، هندوانه ډېرې نورې ګټې هم لري، چې په یوه کوچني مطلب کې یې بیانول ناشوني دي.

## دغه وړې سپارښتنې مو ژوند رنګینوي!



هېڅکله بل چاته سترګې مه پټوئ، د هغه څه لپاره چې د اخیستو توان یې نه لرئ او یا ورته کافي پیسې نه لرئ، د بل قرض او دین ته غاړه مه ږدئ. د ژوند له کوچنیو خوښیو؛ لکه، پلې تګ، له دوستانو سره له ناستې- ولاړې او په طبیعت کې له یوې ښې ورځې تېرولو خوند واخلئ.

سمه ده چې د پیسو سپما هم ګټوره ده، خو د دې پر ځای چې پیسې سپما کړئ او ورځ تر بلې یې ارزښت را کم شي، ښه به دا وي چې پیسې مو پر کار واچوئ او پانګونه پرې وکړئ، ځمکه واخلئ او یا له چا سره ګډ کار پرې وکړئ.

تل د زده کړې په هڅه کې اوسئ
د دې لپاره چې په ژوند کې خوښ و اوسئ، هڅه وکړئ چې د خپلې خوښې په کورسونو کې نوملیکنه وکړئ او د ورځې په اوږدو کې پکې خپلو درسونو ته دوام ورکړئ. که وخت نه لرئ، نو ښوونیزې سي ډي ګانې واخلئ او یا یې هم د انټرنېټ له لارې خپل درسونه تعقیب کړئ.

ماسټر ډبټ کارت
د عزیزي بانک ماسټر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.
www.azizibank.af
1515
عزیزي بانک
Azizi Bank